مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالباری جهانی ۲۰۲۴/۰۸/۰۱

# اسماعیل هنیة

د روان ۲۰۲۴ عیسوي کال د جولای پر یودېرشمه د اسراییلو بین المللی ترورېستي حکومت، چي د بشر د حقوقو هیڅ ډول پروا نه ساتي او د ټولي نړۍ په مخ کي قتل عامونه کوي، د حماس مشر اسماعیل عبدالسلام احمد هنیة، په تهران کي، د ډرون په وسیله، وویشت او له منځه یې یووړ. اسماعیل هنیة د غزې په تړانګه کي د حماس د توندرو اسلامي ډلي او په هغه تړانګه کي د فلسطنیانو د حکومت مشر وو.

د غزې تړانګه چي د یوې اولسوالی په اندازه مساحت لري. اوږدوالی یې ۴۱ کیلومیتره او بر یې له ۶ څخه تر ۱۲ کیلومیترو پوري دی، د اسراییلو او مصر ترمنځ پرته ده. د غزې تړانګه د نړۍ له هغو سیمو څخه ده چي د مځکي په تناسب یې نفوس بې اندازې زیات دی او په همدغه وړه سیمه کي تقریباً ۲ میلیونه انسانان ژوند کوي. دا ۲ میلیونه انسانان بنایی د نړۍ له ترټولو بدبختو کسانو څخه وي چي د اسراییلو په څېر یوه وحشي او خونخور دښمن په غېږ کي ژوند کوي او له بهرنی نړۍ سره تقریباً هیڅ ډول اړیکي نه لري. له دې کوچني هیواد څخه، د اسراییلو له اجازې پرته، نه څوک وتلای او نه څوک ورته راتللای سي او یوازي د ملګرو ملتونو اداري، د بشري مرستو په منظور تماس ورسره ساتي. د غزې تړانګه، له دغه امله ، په نړۍ کي د سرخلاصي زندان Open Air Prison په نوم مشهوره ده. د غزې تړانګه، که څه هم چي د مدیترانې په بحیره کي، آزادو اوبو ته لاره لري خو دا لاره یې د اسراییلو له خوا بنده ده. مصر، چي د غزې له تړانګي سره یو وړوکی سرحد لري، د دغې سیمي اوسېدونکو ته اجازه نه ورکوي چي یا د خوارې غریبې لپاره هغه هیواد ته ننوزي او یا د مصر له لاري کوم بلی هیواد ته ولاړ سي. د غزې د تړانګي په سلو کي ۴۶ کسان بېکاره دي او ځوانان یې ۷۰ فیصده بېکاره دي. د دې سیمي خلک، چي په دایمي محاصره کي ژوند کوي، ټل د ملګرو ملتونو په مرستو چلېږي.

اسماعیل هنیة په ۲۰۰۶ کال کي د غزې په تړانګه کي د فلسطینیانو د حکومت صدراعظم سو او تر اوسه پوري پر همدغه مقام باندي پاته وو. اسماعیل هنیة د ۲۰۲۳ کال په پا کي، د اسراییلو او فلسطینیانو ترمنځ د جنګ له پیل کېدلو سره قطر ته ولاړ او تر دې وروستیو شپو ورځو پوري په قطر کي اوسېدی.

د ۲۰۲۳ کال د اکتوبر پر اوومه د حماس ډلي پر اسراییلو باندي هوایي، ځمکنی او سمندري حمله وکړه چي څو سوه تنه اسراییل یې ووژل او تقریباً ۲۴۰ تنه یې یرغمل کړل. دا چي دا لویه حمله، چي د اسراییلو په تاریخ کي یې ساری نه درلودی، څرنګه وسوه او هدف یې څشي وو، دا به وروسته معلومېږي. خو اسراییلو د تېرکال د نومبر په میاشت کي پر غزه باندي له هري خوا حمله پیل کړه او د غزې د مظلومو انسانانو بشري ناورین تر اوسه پوري دوام لري. اسماعیل هنیة قطر ته ولاړ خو د روان کال په سر کي یې درې زامن او درې لمسیان د اسراییلو په عملیاتو کي ووژل سول. د اسراییلو د بې امانه حملو د پیل راهیسي تر اوسه پوري د غزې د تړانګي زیات وکم ۷۰ زره بې دفاع



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

انسانان، چي تقریباً ۲۰ زره يې ماشومان دي وژل سوي دي، په لس هاوو زره معیوب سوي او په سل هاوو زره بې کوره سوي دي. غربي نړۍ دې بشري ناورین ته په غتو سترګو ګوري او د ټولو مشرانو يې دا يوه خبره ده چي اسراييل له ځان څخه د دفاع حق لري. يعني د مظلومو او بې دفاع ماشومانو، چي هيڅ خواته د تېښتي لاره نه لري، قتل عام مشروع عمل دی.

د ایران اسلامي حکومت څکه دا عمل په سختو ټکو محکوم کړ او د اسماعیل هنیة لپاره يې درې ورځې رسمي ماتم اعلان کړ چي يو خو ايران، په څرګنده توګه، د حماس ملاتړی هیواد وو او بل داچي هنیة په تهران کي وژل سوی وو. د طالبانو حکومت او مشر يې مُلا هبت الله هم د اسماعیل هنیة د شخصیت او مبارزو ستاينه وکړه او د اسراييلو د حکومت دا وروستی عمل يې محکوم کړ.

په دې کي شک نسته چي اسراييل يو جنايتکار حکومت دی او له ۱۹۴۷ کال څخه تراوسه پوری يې له وينو تويولو او د مظلومانو له قتل عامونو څخه پرته بل کار نه دی کړی او څوک چي يې شاته ولاړ دي هغوی هم په دغو ټولو جناياتو کي ورسره شريک دي. مګر پر اسراييلو باندي د حماس د ډلي د تېرکال د اکتوبر د اوومي عمليات بايد وستايل سي او که وغندل سي؟ د حماس د ډلي هغو عملياتو ټولي غربي نړۍ ته دا زمينه برابره کړه چي اسراييل يو مظلوم هيواد وبولي چي له ځان څخه د دفاع لپاره د حملي کولو او مظلومو او بې دفاع خلکو قتل عام مشروع عمل وبولي.

هر څوک چي کوم سياسي او پوځي عمل کوي بايد چي د خپل عمل ګټي او تاوانونه په نظر کي ونيسي. حماس په هغو غير مسوولانه عملياتو کي څه ترلاسه کړل؟ څو سوه تنه اسراييل يې، چي اکثريت يې ملکيان ول، ووژل او د اسراييلو نظام او حکومت ته يې، چي د فلسطين د خلکو دبنمن دی، هيڅ ډول تاوان ونه رساوه. په عوض کي يې تقريباً ۱۰۰ زره کسان مړه او زخميان سول او په سل هاوو زره يې بې کوره سول او قتل عام لا هم دوام لري. دا عمل نه په سياسي او نظامي لحاظ عاقلانه وو او نه حتی د اسلام د دين په اساس روا کار وو. په قرآن شريف کي په دې باب صريح حکم موجود دی « و لا تُلقوا بيدِک الی التهلکة » ځان په لوی لاس هلاکت ته مه ورکوه.

په دې کي شک نسته چي د غزې په ترانګه کي، چي سرخلاصی زندان وو، د ژوند کولو شرايط د زغملو نه وه. مګر نو د دې معنا دا ده چي سړی بايد باقي پاته ژوندي انسانان، په لوی لاس، سره اور ته واچوي او د اسراييلي وحشيانو منګولو ته يې وسپاري؟ له دغو وژل سويو، معيوبو سويو او زيانمن سويو انسانانو سره چا سلا کړې وه؟ دا ټول اسلامي هيوادونه، چي په امريکا، کاناډا او اروپا کي په ټريليونونو ډالره پانګي لري، په غتو سترګو ورته ګوري او هيڅ نه وايي. په داسي حال کي چي که يې هرڅه په وس پوره نه وي نو په بشپړه توګه بې وسه هم نه دي. نو د غزې مظلومانو څه ګناه کړې ده چي بايد د اسراييلو د وحشت او د ايران د سياست قرباني سي؟ زما په عقيده، په داسي حال کي چي اسراييل بايد د يوه جنايتکار هيواد په حيث محکوم سي، د دې ترڅنګ بايد اسماعيل هنية او د حماس اسلامي ډله د ټولو شهيدو سويو مسلمانانو په قتل کي شريک او د ټولو معيوبو سويو او زيانمنو سويو مسلمانانو د کړاو مسوول وبلل سي.

[په افغان جرمن آنلاين کې پورتال د ليکوال آرشيف]


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ